حسین احمد عثماني

۲۰۲۳/۰۸/۱۷

# لیتیم

لیتیم یو نادره فلز دی چي په نړۍ کي ډیر کمیابه او محدودې زیرمي لري. لمړي ځل لپاره ارفزون سویډني عالم په ۱۸۱۷م کال کي کشف کړ. ځیني کتابونو کي بیا ویل شوي دي چي برازیلي کیمیادان بونیفاسیو لمړي ځل لپاره موندلی دی. لیتیم د تیلو په شان په ستراتیژیک محصول بدلیږي. دا یو ډیر سپک فلز دی او د ریچارج وړ (Rechargeable)بیټریو مرکزي برخه ده. په نړۍ کي د هایدرو کاربن انرژي په کمیدو ده، او د نوي کیدونکي انرژي وده مخ په ډیریدو ده. نو له همدې وجي د لیتیمو تقاضا هم ورځ تر بلي زیاتیږي.

لیتیمو ځخه په مختلفو صنعتونو کي استفاده کیږي. د مبایل، لپ ټاپ، ټابلیټونو او نورو مهمو او زیات کاریدونکي ټیکنالوژیکي وسایلو په بیټریو کي عموماً لیتیم کارول کیږي .

د برقي موټرو او موټرسایکلونو مارکیټ ډیر په چټکۍ پراخیږي. امریکا، اروپا او ځیني نور پرمختللي هیوادونه هڅه کوي چي تر ۲۰۳۰م کال پوري د پټرولي او ډیزلي موټرو تولید ډیر راکم کړي او پر ځای یي برقي موټرو تولید ته پراختیا ورکړي. د برقي موټرو په بیټریانو کي هم لیتیم کارول کیږي. دغه موټري اقتصادي ګټو سره سره د هوا ککړتیا او غږیزه ککړتیا هم راکموي. یواځي تیسلا کمپني په ۲۰۲۱ میلادي کال کي 936000 برښنایي موټري خرڅي کړي دي. او اوس هم د برقي موټرو په مختلفو ډیزاینونو یي کار او تولید روان دی .

تیسلا د موټرو تولید سره سره د بیټریو په تولید کي هم مخکښ شرکت ګڼل کیږي. دغه شرکت په ۲۰۱۷م کال استرالیا کي د ۱۰۰ میګا واټه په ظرفیت د برښنا د تولید یو لوی پلانټ جوړ کړ. د تیسلا شرکت رئیس ایلن ماسک د یو شرط په ډول دغه د نړۍ تر ټولو لویه د برق د ذخیره کولو بیټري په ۱۰۰ ورځو کي جوړه کړه. چي مرکزي برخه یي لیتیم دي.

د نظامي ټکنالوژۍ په ډګر کي کوششونه روان دي، ترڅو توغندي تر لرې واټن پوري د لیتیمو بیټریو په وسیله ورسوي. د ډرون الوتکو په بیټریو کي هم لیتیم کارول کیږي. روباټان چي په ډیرو برخو کي د انسانانو ځخه غوره ثابت شوي دي، تولید یي هم په چټکۍ ډیریږي، او چارج ساتلو لپاره یکي د لیتیمو جوړو بیټریو ځخه استفاده کیږي. له دې علاوه د شیشي، آیني او سرامیک په تولید، د فلزاتو ویلي کولو او ویلډینګ کولو په صنعت کي هم لیتیمو ځخه استفاده کیږي. آتشبازۍ او هوایي فشناګانو په جوړولو کي هم لیتیم کارول کیږي. لیتیم په طبابت کي هم استعمال لري. د اعصابو، رواني او زړه تنګۍ په دوایانو کي نورو موادو سره ګډیږي.

د نړۍ تر ټولو لوی او شتمن شرکتونه لکه ایپل، ایچ پي، سامسنګ، تیسلا، سوني، ال جي، بي ایم ډبلیو او نور لیتیمو ته شدیده اړتیا لري.

د یوټن لیتیو اوسنی نړیوال نرخ (۲۰۲۲ م کال کي) ۶۰-۵۰ زره ډالرو پورې دی. چي ورځ تر بلي یي تقاضا او نرخ لوړیږي.

همدا اوس د روس او اوکراین جنګ له وجي ټوله نړۍ کي د نفتو نرخونه پورته شوي دي. دا ځکه چي روس تقریباً ټولي نړۍ ته ۱۲ سلنه نفت ورکوي. ځیني کارپوهانو لیتیم د "نوي پټرولو" په نوم نومولی دی. نو ویلی شو چي په ډیرو صنعتونو کي د تیلو بدیل لیتیم کیدلی شي. د لیتیم انرژي نوي کیدونکي او د ذخیرې وړ ده، او د هایدرو کاربن انرژي فقط یو ځل استعمال وروسته بیا نه نوي کیږي .

افغانستان کي تر اوسه پورې د لیتیمو په زیرمو جیولوژیکي ځیرني منظمي ندي ترسره شوي. خو بیا هم تحقیقات او ارزوني ځرګندوي چي دا هیواد د لیتیمو یو شتمن هیواد دی خو زیرمي یي تر اوسه لاس ناخوړلي (virgin State) په حال پاتي دي. افغانستان کي د لیتیمو ۱۴ زیرمي تثبیت شوي دي. تر ټولو لویه زیرمه یي په لغمان کي موندل شوې ده، همدا ډول غزني، بدخشان، هرات، نیمروز، نورستان او پروان کي یي هم زیرمي شته دي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځیر و لولئ

په تیرو شلو کلونو کې امریکا د افغانستان هر کیلومټر مکعب خاوره په ډیرو پرمختللو جیولوژیکي او ټکنالوژیکي وسایلو د هوا او ځمکې له لیارې پلټلې ده. د پنټاګون په یو شمیر اسنادو کې افغانستان ته د لیتیمو هیواد ویل شوی دی. ځینې امریکایي چارواکو نیویارک ټایمز ورځپاڼې ته ویلې دي، چې د افغانستان د لیتیمو زیرمې دومره پراخه دي لکه د سعودي عربستان د تیلو سرچینې. څه موده وړاندې فاینشیل ټایمز ورځپاڼې راپور خپور کړ چې افغانستان د لیتیمو له پلوه د ټولې نړۍ د هیوادونو د لیتیمو سره رقابت کولی شي.
اوسنۍ عصري نړۍ لیتیمو ته ډیره اړتیا لري. ممکن د افغانستان د لیتیمو په سر د امریکا، اروپا او چین تر منځ خفیه رقابت، سازش او ډیالوګ روان وي.
هیواد کې د لیتیمو استخراج لپاره پانګه ونې، ماشینري، مسلکي خلکو او سیاسي ثبات ته اړتیا ده. که د افغانستان لیتیم په منظم ډول مدیریت او استخراج شي، نو باوري یم چې ډیر لګ وخت کې به افغانستان د یو فقیر او د بهرنیانو په مرستو متکي هیواد پر ځای به په سیمه کې په یوه بډایه او
غوره اقتصاد لرونکي هیواد بدل شي.
لیکنه: حسین احمد عثماني


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ